جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات

ضيوف الرحمن
hajjumrh.com

# لنډيز د نبوي جومات د زيارت آداب او احکام

بشتو

پښتو



ضيوف الرحمن
hajjumrh.com

شركاء التنفيذ :

دار الإسلام | بيان الإسلام | رواد التراجم | المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص

Tel : +966 50 244 7000
info@islamiccontent.org
Riyadh 13245-2836
www.islamiccontent.org

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين.

**اما بعد:**

دا د نبوي مسجد د زيارت د آدابو او احکامو په اړه لنډه رساله ده چې په ترڅ کې يې موږ د هغه څه د بيانولو هڅه کړې چې د نبوي جومات زيارت کوونکی ورته اړتيا لري.

موږ له الله جل جلاله څخه سوال کوو چې خاص د خپلې رضا لپاره يې وګرځوي او عامو مسلمانانو ته پرې ګټه ورسوي.

د ژبو په برخه کې د اسلامي محتوا د خدماتو د تولنې علمي کمېټه






# لنډيز
# د نبوي جومات د زيارت آداب او احكام





1 د نبوي مسجد زيارت كول په هر وخت كې مستحب دي او كوم ځانګړی وخت نه لري، دا د حج له مراسمو څخه نه دی، او په حاجیانو - نارینه او ښځینه وو - د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر او د بقیع هدیرې زیارت حتمي او لازمي نه دی.

2 د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر د زیارت (په نیت) سفر کول جائز نه دي، ځکه قبرونو ته د عبادت په نیت سفر نه کیږي، بلکې یوازې درې جوماتونه دي چې د عبادت لپاره ورته سفر کیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (لا تشدوا الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد: مسجدي هذا، والمسجد الحرام، والمسجد الأقصى) «دریو جوماتونو ته له تګ پرته نورو ځایونو ته د کډو تړل ناروا دي چې هغه: زما دغه جومات، مسجد الحرام، او الأقصى جوماتونه دي». بخاري (۱۱۸۹) او مسلم (۸۲۷) روایت کړی دی او الفاظ د همده دي. نو څوک چې له مدینې لرې وي د قبر د زیارت په نیت ورته سفر کول روا نه دي، بلکې د نبوي جومات د زیارت په نیت ورته سفر کول روا دي، کله چې هلته ورسیږي، نو د هغه صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو د قبرونو زیارت کوي، نو د قبر زیارت یې د نبوي مسجد د زیارت په پایله کې راځي.

ښځې ته روا نه دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم یا د بل چا د قبر زیارت ته لاړه شي؛ هغه صلی الله علیه وسلم پر هغو ښځو لعنت ویلی چې د قبرونو زیارت ته ځي، ځکه چې هلته له هغوی څخه ژړاګانې، فریادونه، بې حجابي او نورې شرعي سرغړونې کیږي، خو ورته مستحب دي چې په مسجد او نورو ځایونو کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم زیات درود ووایي، ځکه چې د هغوی درود له هر ځای څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (لا تجعلوا بیوتکم قبوراً، ولا تجعلوا قبري عیداً، وصلُّوا عليَّ فإن صلاتكم تبلغني حیث كنتم)، «له کورونو مو مقبرې مه جوړوئ او زما قبر د عبادت ځای مه ګرځوئ، پر ما درود وایئ، یقینا تاسو چې هر چیرې یاست ستاسو درود ماته رسیږي». او (رسول الله) صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (إن لله ملائكة سیاحین في الأرض یبلغوني من أمتي السلام). «الله -تعالی- داسې ملایکې لري چې په ځمکه کې ګرځي او زما له امت څخه ماته سلام رارسوي».

3. کله چې نبوي جومات ته ورسیږي ورته مستحب دي چې د ننوتلو پر مهال خپله ښی پښه مخکې کړي او ووایي: (اللَّهم افتح لي أبواب رحمتك) یا الله ماته دې د رحمت دروازې پرانیزه، لکه څنګه چې دا دعا هر جومات ته د ننوتلو پر مهال وایي.

4. او د نبي صلی الله علیه وسلم جومات ته د ننوتلو لپاره کوم ځانګړی ذکر نشته.

5 بيا دوه ركعته تحية المسجد لمونځ كوي.

6 كه چيرته د لمانځه څخه د ممانعت وخت نه و، كولی شي څومره چې وغواړي دوه دوه ركعته نفلي لمونځونه وكړي، رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (صلاة في مسجدي هذا خير من ألف صلاة فيما سواه إلا المسجد الحرام) «زما پدې جومات كې يو لمونځ په نورو جوماتونو كې له زرو لمونځونو څخه غوره دی پرته له مسجد الحرام (بيت الله ) څخه». بخاري (١١٩٠) او مسلم (١٣٩٤) كې روايت كړی دی.



ضيوف الرحمن
hajjumrh.com



7 هڅه دې وکړي چې په روضه کې لمونځ وکړي - کوم چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د منبر او د هغه د حجرې ترمنځ ځای دی - البته که دا کار شونی و، ځکه چې **رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (ما بين بيتي ومنبري روضة من رياض الجنة)** «زما د کور او منبر ترمنځ د جنت له باغچو څخه يوه باغچه ده». بخاري (۱۱۹۵) او مسلم (۱۳۹۰) روايت کړی دی. که دا کار شونی نه و، کولی شي د جومات په هره برخه کې يې وکړي، البته دا د جماعت د لمانځه پرته لمونځونه دي، او د جماعت د لمانځه لپاره بايد هڅه وکړي چې په لومړي صف کې يې ادا کړي کوم چې د امام پسې دی؛ ځکه پدې اړه عام دلايل راغلي دي.

8 او کله يې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه د صاحبينو د قبرونو زيارت کول غوښتل:




أ. نو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د قبر مخې ته به په ادب او احترام سره ودرېږي او په ټيټ غږ سره به پرې پدې الفاظو سلام ووايي: (السلام عليك يا رسول اللّه ورحمة اللّه وبركاته)، او که دا الفاظ يې وويل هم باک نه لري: (أشهد أنك رسول اللّه حقّاً، وأنك قد بلّغت الرسالة، وأدّيت الأمانة، وجاهدت في اللّه حق جهاده، ونصحت الأمة، فجزاك اللّه عن أمتك أفضل ما جزى نبياً عن أمته) (يعنې زه ګواهي ورکوم چې ته په حقه د الله رسول يې، او پدې چې تا خپل رسالت او امانت ادا کړي او د الله په لار کې دي حق جهاد کړی، امت ته دې نصيحت کړی، نو الله تعالی دې د امت لخوا تاته غوره بدله درکړي، هغه بدله چې (الله تعالی) يې يو نبي ته د هغه د امت پر سر ورکوي).

**ب.** بیا به ښي لاس ته لږ مخکې شي او په ابوبکر صدیق رضي الله عنه به سلام واچوي.

**ت.** بیا به لږ نور هم ښي لاس ته مخکې شي او په عمر بن الخطاب رضي الله عنه به سلام واچوي، او ابن عمر رضي الله عنهما به چې کله په رسول الله - صلی الله علیه وسلم - او صاحبینو یې سلام اچاوه نو لدې الفاظو به یې نه زیاتول: (السلام علیك یا رسول الله، السلام علیك یا أبا بكر، السلام علیك یا أبتاه) (سلام دې وي پر تا ای د الله رسوله، سلام دې وي پر تا ای ابوبکره، سلام دي وي پر تا ای پلار جانه، بیا به نور ترې روان شو).

**ث.** او نه ښایي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د صاحبینو د قبرونو سره د اوږد مهال لپاره ودریږي یا دعا وکړي، ځکه دا کار امام مالک مکروه ګڼلی او ویلي یې دي: دا بدعت دی او سلفو ندی کړی، او د دې امت وروستي به یوازې هغه څه اصلاح کړي چې لومړني یې اصلاح کړي دي.

**ج.** او هغه څه چې ځینې زیارت کوونکي یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر د زیارت پر مهال کوي لکه: غږ پورته کول او د اوږد مهال لپاره ودریدل، نو دا کار د شریعت خلاف عمل دی، الله تعالی فرمایلي: (یا أیها الذین آمنوا لا ترفعوا أصواتكم فوق صوت النبي ولا تجهروا له بالقول كجهر بعضكم لبعض أن تحبط أعمالكم وأنتم لا تشعرون ، إن الذین یغضون أصواتهم عند رسول الله أولئك الذین امتحن الله قلوبهم للتقوى لهم مغفرة وأجر عظیم)(ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی! تاسو خپل اوازونه د نبي د اواز له پاسه مه پورته کوئ، او مه ده ته په اوچت اواز خبره کوئ، لکه ستاسو د ځینو له ځینو نورو سره د اواز اوچتولو په شان، له دې وجې چې ستاسو عملونه به برباد شي او تاسو به پوه نه وئ).

بېشکه هغه کسان چې د الله د رسول په وړاندې خپل اوازونه ټيټوي؛ دوی هغه کسان دي چې الله د دوی زړونه د تقوىٰ (او پرهېزګارۍ) لپاره ازمايلي دي، د دوی لپاره بخښنه او ډېر لوی اجر دی. [الحجرات: ۲ - ۳] ځکه چې د هغه صلی الله عليه وسلم د قبر سره د اوږد مهال لپاره درېدل او تکراري سلام اچول د هغه پر قبر د ګڼې ګوڼې، شور او لوړو اوازونو د پورته کېدو لامل ګرځي چې دا د هغه څه خلاف عمل دی چې الله تعالی په محکمو آيتونو کې مسلمانانو ته روا کړي دي، بل دا چې هغه صلی الله عليه وسلم په ژوند او له مرګ نه وروسته دواړو حالتونو کې قدرمن دی، نو مومن ته نه ښايي چې له قبر سره يې داسې څه وکړي چې د شرعي ادابو خلاف وي.

ح. او همدارنګه، هغه څه چې ځينې زيارت کوونکي او نور يې د هغه صلی الله عليه وسلم د قبر سره د دعا کولو پر مهال کوي چې قبر ته مخ اړوي او لاسونه پورته کوي، نو دا ټول هغه څه دي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اصحابو سلف صالح او د هغوی د پيروانو خلاف عمل دی، بلکې دا د نوي جوړ شويو نوښتونو او بدعتونو څخه دي.

خ. همدا رنګه هغه څه چې ځينې زيارت کوونکي يې په رسول الله صلی الله عليه وسلم د سلام اچولو پر مهال کوي چې خپل ښی لاس پر چپ د سينې له پاسه يا ښکته ږدي لکه لمونځ چې کوي، نو پر هغه د سلام اچولو پر مهال دا دريځ جواز نه لري، ځکه دا حالت په خشوع، عاجزۍ او عبادت دلالت کوي چې يوازې د الله لپاره ښايي چې وشي، لکه پدې اړه چې حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې د علماوو په حواله روايت کړی دی.

د. او هيچاته روا نه دي چې الله تعالى ته د نږدې کېدلو په نيت حجره شريفه لمس کړي، يا ترې طواف وکړي، او نه دا چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د حاجت د پوره کولو، يا د ناروغ د شفا او يا بل څه سوال وکړي؛ ځکه دا ټول يوازې له الله تعالى څخه غوښتل کيږي.



9 د مديني منورې زيارت کوونکي ته هلته د استوګنې پر مهال مستحب دي چې د قباء مسجد ليدو ته لاړ شي او لمونځ پکې وکړي، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به هلته سپور او پياده په دواړو حالتونو کې تګ کاوه او دوه رکعته لمونځ به يې پکې کاوه، د سهل بن سعد څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (من تطهر في بيته ثم أتى مسجد قباء فصلى فيه صلاةً كان له كأجر عمرة). «چا چې په کور کې طهارت وکړ، بيا د قباء مسجد ته ولاړ او لمونځ يې پکې وکړ، نو د عمرې په اندازه اجر ورکول کيږي».



**10** د سړیو لپاره د بقیع مقبرې -چې په مدینه کې یوه هدیره ده- د شهیدانو د قبرونو او حمزه رضي الله عنه د قبر زیارت کول مسنون دي؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به یې زیارت کاوه او دعا به یې ورته کوله، دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول دی چې فرمایي: (كنت نهيتكم عن زيارة القبور، فزوروها فإنها تذكركم الآخرة) «ما تاسو د قبرونو له زیارت څخه منع کولئ، نو زیارت یې وکړئ، ځکه چې تاسو ته اخرت دریادوي». او د زیارت پر مهال به هغه څه وایي چې د نورو قبرونو د زیارت پر مهال یې وایي: «السلام عليكم أهل الديار، من المؤمنين والمسلمين، وإنا إن شاء اللَّه بكم لاحقون ويرحم اللَّه المستقدمين منا والمستأخرين، نسأل اللَّه لنا ولكم العافية».

«سلام دې وي پر تاسو اې د دې کورونو مومنو او مسلمانو استوګنو، هر کله چې الله اراده وکړي موږ به تاسو سره یوځای شو، الله دې زمونږ په مخکنیو او وروستنیو رحم وکړي، له الله څخه د ځان او ستاسو لپاره د هوساینې او عافیت غوښتنه کوو».



11 او شک نه شته چې د قبرونو له زيارت څخه موخه د آخرت راپه زړه کېدل او مړو ته په دعا کولو له هغوی سره نيکي کول او د رسول الله صلی الله عليه وسلم پيروي ده، او همدې ته شرعي زيارت ويل کيږي.

12 او پدې نيت يې زيارت کول چې د قبرونو سره يې دعا وشي، يا له الله تعالی څخه د دوی په واسطه يا د دوی په مقام او داسې نورو طريقو سره سوال وشي، نو دا يو بدعتي ناروا زيارت دی چې الله تعالی او رسول صلی الله عليه وسلم نه دی روا کړی او نه سلفو صالحينو کړی دی، او د حاجتونو د پوره کولو، د ناروغانو د رغولو او داسې نورو کارونو لپاره ترې سوال يو ډول لوی شرک دی.



**قدرمن لوستونکیه،** دلته په دې اړه ځینې جعلي حدیثونه ستا مخ ته ږدم، ترڅو یې وپیژنې او پرې له دوکه کېدو وژغورل شې:

**لومړی:** «چا چې حج وکړ او زما زیارت یې ونه کړ، نو جفا یې راسره وکړه».

**دویم:** «چا چې زما له مړینې وروسته زما زیارت وکړ، نو داسې ده لکه په ژوندون یې چې لیدلی یم».

**دریم:** «چا چې په یو کال کې زما او زما د پلار ابراهیم زیارت وکړ، نو د الله تعالی سره ورته د جنت ضمانت کوم».

**څلورم:** «چا چې زما د قبر زیارت وکړ، زما شفاعت ورته واجب شو».

نو دا او دې ته له ورته حدیثونو څخه هیڅ شی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت ندي، حافظ العقیلي ویلي: پدې باب کې هیڅ شی صحیح نه دی. حافظ ابن حجر په التلخیص کې ویلي وروسته لدې چې ډېری روایتونه یې ذکر کړي: د دې حدیث ټولې لارې ضعیفه دي. د حج یا عمرې څخه مخکې یا وروسته د نبوي جومات زیارت کول د حج یا عمرې د سنتو یا د هغوی له بشپړولو څخه نه دي، ځکه چې نبوي مسجد ته تلل په بشپړ ډول یو مستحب عمل دی؛ نو که حاجي یا عمره کوونکی هلته لاړ نشي ګناه پرې نشته، او د حج، عمرې او نبوي مسجد د زیارت ترمنځ هیڅ اړیکه نشته، ځکه چې دا جلا عبادتونه دي، نو څوک چې حج یا عمره کوي، د نبوي جومات زیارت کول پرې حتمي نه دي، خو که په یو سفر کې یې د حج، عمرې او نبوي جومات زیارت سره یوځای کړل باک نه لري.

# د نبوي مسجد د زيارت پر مهال سرغړونې

1 د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر د زيارت پر مهال په دیوالونو او اوسپنيزو پنجرو لاسونه راښکل او د تبرک په موخه د پنجرو پورې تارونه تړل.
برکت په هغه څه کې دی چې الله - جل جلاله - او رسول - صلی الله علیه وسلم - روا کړی وي، نه په بدعتونو کې.

2 د احد په غره کې غارونو او دې ته ورته په مکه کې د حرا او ثور غارونو ته ورتلل، هلته د ټوټو غوټه کول او په داسې دعاګانو سره دعا کول چې الله يې اجازه نه ده کړې، او ځان په سختيو کې ښکېلول.

**دا ټول هغه بدعتونه دي چې په پاکيزه شريعت کې بنياد نه لري.**



3. ځینو هغو ځایونو ته ورتګ چې ګومان کیږي د رسول الله صلی الله علیه وسلم آثار دي لکه: د اوښې د کېناستو ځای، د ګوتمې څاه (بئر خاتم)، د عثمان څاه او له دې ځایونو څخه د تبرک لپاره خاورې راخېستل.

4. د بقیع او د احد د شهیدانو هدیرو ته د ورتګ پر مهال له مړو دعا غوښتل، او هغوی ته د نږدې کېدو او تبرک په موخه هلته پیسې غورځول.

دا (کړنې) له لویو تېروتنو بلکې له لوی شرک څخه دي، لکه څنګه چې علماوو بیان کړي او د الله تعالی کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت پرې دلالت کوي؛ ځکه چې عبادت یوازې د الله حق دی او له هغه پرته بل هیچا ته یې کول روا نه دي لکه: دعاء، حلاله، نذر او داسې نور، الله تعالی فرمایلي: (وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ) (حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دین (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي). [البینة سورت: ٥ آیت].

والله أعلم، وصلى الله وسلم على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين.



# تعرف على الإسلام
# بأكثر من 100 لغة

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com

ترجمات متقنة لمعاني القرآن الكريم بأكثر من (75) لغة

بيان الإسلام
byenah.com

مواد منتقاة للتعريف بالإسلام وتعليمه بأكثر من (120) لغة

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com

ترجمات متقنة للأحاديث النبوية وشروحها بأكثر من (60) لغة

ضيوف الرحمن
hajjumrh.com

مواد منتقاة للحجـــاج والمعتمرين و الزوار بلغات العالم

جامع المحتوى الإسلامي باللغات
islamcontent.com

مواد إسلامية متنوعة وشاملة بأكثر من (125) لغة

موسوعات وخدمات إسلامية باللغات
s.islamenc.com

للمزيد من المواقع الإسلامية بلغـــات العـــالم

ضيوف الرحمن
hajjumrh.com

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات